# ځوک چې د هر لمانځه په پای کې درې دېرش ځلې سبحان الله، درې دېرش ځلې الحمد لله او درې دیرش ځلې الله اکبر ووايي نو دا نهه نوي شول، او د سلو د پوره کولو لپاره يې: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ" ووايي نو د هغه ګناهونه به وبخښل شي، که څه هم د سمندر د زګ په څېر وي

ابوهریره رضي الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي: "ځوک چې د هر لمانځه په پای کې درې دېرش ځلې سبحان الله، درې دېرش ځلې الحمد لله او درې دیرش ځلې الله اکبر ووايي نو دا نهه نوي شول، او د سلو د پوره کولو لپاره يې: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ" ووايي نو د هغه ګناهونه به وبخښل شي، که څه هم د سمندر د زګ په څېر وي.
[صحيح] [مسلم روايت کړی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: چا چې له فرض لمانځه وروسته: درې دیرش ځلې "سبحان الله" وويل چې دا له نېمګړتیاوو څخه د الله جل جلاله د پاکۍ بیانول دي. او درې دیرش ځلې یې "الحمد لله" وويل چې دا له محبت او تعظیم سره د کمال په صفتونو د الله تعالی یادول دي. او درې دیرش ځلې "الله أكبر" ویل چې (معنا یې) له هر شي څخه د الله جل جلاله لويي بیانول دي. او سل عدد د دې ذکر په ویلو سره پوره کیږي: «لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك، وله الحمد، وهو على كل شيء قدير» چې معنا يې دا: له الله پرته بل حق معبود نشته، هغه یو دی شریک نه لري، او هغه پاک ذات لره یوازې بشپړه واکمني ده، هغه له نورو پرته د محبت او تعظیم سره د ثنا او ستاینې وړ دی، او دا چې هغه قادر دی او هېڅ شی یې نه شي عاجز کولای. نو چا چې دا (ذِکر) ووایه ګناهونه یې پاک شول او وبخښل شول، که څه هم د هغه سپين ځګ په څېر ډېر وي چې د سمندر د اوبو په سر د څپو او هیجان پر مهال راپورته کیږي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10948